بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري ځرګندويه خپرونه

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېرى ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلى، ج ۲، ص ۱۳۰۳

شنبه ۲۲ مرغومی ۱۴۰۳ هـ ش | ۱۰ رجب المرجب ۱۴۴۶ هـ ق | ۱۱ جنوری ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۸۷)

## گزارش اجراآت عمدهٔ رياست عالی تميز مرکزی ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱۴۰۳ هـ ش

رياست عالی تميز مرکزی ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱۴۰۳ هـ ش اجراآت عمدهٔ ذيل را انجام داده‌است:

- به تعداد (۱۵۳۸) قطعه مکاتيب از محاکم ولايات و ادارات مختلف کشور به اين رياست مواصلت ورزيده است، که از آن جمله (۱۳۹۸) مکتوب اجراآت و به مراجع مربوطه ارسال گرديده است و به تعداد (۱۴۰) مکتوب تحت کار قرار دارد.
- به تعداد (۲۲۷۱) جلد دوسيه از محاکم (۲۴) ولايت، ديوان های پنجگانه و ادارات مختلف به اين رياست مواصلت ورزيده است، که از جمله آن به تعداد (۱۱۵۵) دوسيه غرض تميز طلبی به دواوين پنجگانه ارسال گرديده و به تعداد (۵۵۳) جلد دوسيهٔ متفرقه به محاکم (۲۴) ولايت، ديوان های پنجگانه رياست عالی تميز مرکز و ادارات مرکزی و ولايتی غرض اجراآت ارسال گرديده‌است.
- به تعداد (۱۱۶) جلد دوسيه جزائی و (۱۱۵) جلد دوسيهٔ حقوقی غرض تطبيق به مراجع مربوطه ارسال گرديده‌است.
- به تعداد (۳۳۲) جلد دوسيه که مربوط محاکم خاص بوده بعد از غور و بررسی اعضاء قضائی، نهائی و از سوی اين رياست تائيد شده‌است. از آن جمله به تعداد (۱۹۵) جلد دوسيه تائيد و به تطبيق ارسال و به تعداد (۱۳۷) جلد دوسيه مسترد و غرض فيصله شرعی به محاکم مربوطه ارسال گرديده است.
- به تعداد (۳۲۵۴) قطعه عرايض از اصحاب دعاوی به اين رياست مواصلت ورزيده است که از جمله آن به تعداد (۳۲۰۰) قطعه آن بعد از احکام و رسيدگی به عارضين تسليم داده شد.
- به مشکلات (۳۹۶۶) تن از مراجعين اصحاب دعاوی بر علاوه اجراآت فوق الذکر ملاقات صورت گرفته و به قناعت ايشان پرداخته شده.
- رؤسای دواوين پنج گانه به تعداد (۱۴۴۸) جلد دوسيه را غرض مشوره با رئيس اين رياست شريک ساخته که از جمله آن (۲۶۵) جلد دوسيه تائيد و غرض تطبيق و به تعداد(۱۱۸۳) جلد دوسيه مسترد و جهت فيصله شرعی و قانونی به مراجع مربوطه ارسال گرديده‌است.




## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۰**

**نېټه: ۱۰/ ۱۴۴۶/۶ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د شاسي بدل موټرانو په اړه د سترې محکمې محترم عالي مقام هدايت.

د سترې محکمې محترم عالي مقام داسې هدايت وکړ:

"د شاسي بدل موټرانو د موضوعاتو په اړه د ټاکل شوي هيئت نظر چې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۲۵۹۱/۳۳۶) مؤرخ ۱۴۴۶/۵/۱۹هـ ق په توسط منظور شوی، د عملي کولو په موخه دې ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستول شي."

بناءً د شاسي بدل موټرانو په اړه د هيئت نظر ددې متحدالمآل مل په (۶) ورقو کې تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شو.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۱**

**نېټه: ۱۲/ ۱۴۴۶/۶ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د بې سرنوشته،د عفوې او تخفيف مستحق بنديانو معلومولو په اړه د سترې محکمې محترم عالي مقام حکم.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مؤرخ ۱۲ـ جمادی الآخرة ـ ۱۴۴۶ هـ ق په توسط داسې هدايت وکړ: د بنديانو د هيئتۍ لپاره دې په لاندې ډول هيئتونه تعين شي او هر هيئت دې د هغه بنديانو چې محکمه يې نه وي شوې جلا لېست ترتيب کړي، هغه بنديان چې محکمه يې شوې وي د عفوې مستحق دې په جلا او د تخفيف مستحق دې په جلا لېستونو کې ترتيب کړي:

د ولايتونو د هيئت ترکيب: د ولايت د استيناف محکمې د جزا دېوان د رئيس په مشرۍ د ولايت د مقام نمائنده، د قومندانۍ نمائنده او د استخباراتو نمائنده په غړيتوب هيئتونه دې د ولايتي محبس څخه علاوه د ولايت د نژدې ولسواليو د محبسونو څخه هم هيئتي وکړي او کومې ولسوالۍ چې ليرې وي د هغو د بنديانو معلومات دې د هغه ولسوالۍ د قاضي، امنيه قوماندان او استخباراتو څخه وکړي.

د کابل ولايت په مرکز کې د هيئتونو تفصيل:

اول هيئت: د مرکزي زون نظامي محکمې د نمائنده په مشرۍ د کابل ولايت د مقام نمائنده او د استخباراتو نمائنده دې، د استخباراتو د بنديانو هيئتي وکړي.

دويم هيئت: د کابل ولايت د استيناف محکمې د جزاء دېوان د الف جزء د رئيس په مشرۍ دکابل ولايت د مقام نمائنده او د امنيه قوماندانۍ نمائنده په عضويت هيئت دې د کابل ولايت د توقيف خانو د بنديانو هيئتي وکړي.

د پلچرخي زندان لپاره دې څلور هيئتونه په لاندې ډول جوړ شي:

د هر زون د جزا دېوان د رئيس په مشرۍ څلور هيئتونه چې د هر هيئت سره د کابل ولايت د مقام نمائنده، د استخباراتو نمائنده او د کابل ولايت د امنيه قوماندانۍ نمائنده دې د پلچرخي زندان د بنديانو هيئتي وکړي.

ياد هيئتونه دې خپل کار په تاريخ ۱۴۴۶/۶/۱۵هـ ق شروع کړي او تر تاريخ ۱۴۴۶/۶/۳۰هـ ق دې د کابل ماسوا د نورو ولايتونو بنديانو لېستونه د خپل نظر سره يو ځای د سترې محکمې محترم مقام ته په دغه واټساپ نمبر(۰۷۰۵۵۵۸۷۵۶) راواستوي او د کابل هيئتونه دې ياد لېستونه د خپل نظر سره يو ځای د سترې محکمې محترم مقام ته تسليم کړي.

بناءً ياد هدايت او د هيئتۍ لپاره ترتيب شوي جدولونه ددې متحدالمآل په توسط تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شول.

**په نبوي دوره کې د ځينو قاضيانو يادونه:**

**۶- عَمرو بن العاص بن وائل ﷺ:**

**پنځمه برخه**

بيا ابوبکر صديق (رضي الله عنه) شام ته د لېږونکي سريې مشر وټاکه، نو دی هم ولاړ او مشري يې په غاړه واخيسته او عمر بن خطاب (رضي الله عنه) د فلسطين لپاره والي وټاکه، بيا عمر(رضي الله عنه) مصر ته د تلونکي لښکر مشر وټاکلو او فتحه يې هم کړ او تر هغه د فلسطين والي و، چې عمر (رضي الله عنه) شهيد شو، نو عثمان (رضي الله عنه) هم دی نږدې څلور کاله پر هغه ځای پرېښود، چې بيا يې د هغه ځای څخه ليرې کړ او پر ځای يې عبدالله بن سعد بن ابي سرح وټاکلو، نو عمرو هم فلسطين پرېښود او کله کله به مدينې منورې ته راتللو او پر عثمان (رضي الله عنه) به يې طعن ويل، نو کله چې عثمان (رضي الله عنه) شهيد کړل شو، نو معاويه (رضي الله عنه) ته ولاړ او د هغه ملاتړ يې وکړ، د هغه سره د صفين په جګړه کې هم شريک شو او د ده مقاومت دې جګړه کې مشهور دی.
او په دوو فيصله کوونکو کې يو دی و، چې هغه کيسه مشهوره ده، چې بيا وروسته معاويه (رضي الله عنه) مصر ته د تلونکي لښکر مشر وټاکلو، چې د محمد بن ابو بکر له لاس څخه يې مصر واخيست، چې هغه د علي (رضي الله عنه) لخوا د عامل په توګه لېږل شوی و، چې معاويه (رضي الله عنه) بيا دی د مصر مسؤول وټاکلو تر هغه چې ۴۳ هجري قمري کال کې وفات شو او ځينو ۴۷، ځينو ۴۸ او ځينو بيا ۵۱ هجري کال ښودلی دی، خو لومړنی قول ډېر صحيح دی. ( أسد الغابة:۲۳۲/۴)

اخذليک: تتمة النظام، ۵۰ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## په پکتیا ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیا ولایت ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دېوان د پرېکړې له مخې دوو کسانو ته چې پر غلا متهم وو، په ۲۹/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. د ښاري ابتدائیه محکمې جزا دېوان یاد متهمین پر دوه- دوه کاله تنفیذي بند او ۳۹- ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د ستړې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې او ښاري ابتدائیه محکمې مسؤولینو، مراجعینو او ګڼ شمېر عامو هېوادوالو ګډون کړی و. غونډه د تعزیري سزا له تطبیق وروسته د دعاء په لوستلو پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت کندز تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی قلعه ذال ولایت کندز به شمول یک زن بالای دو تن به جرم فرار از منزل به تاریخ ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق در صحن محکمه مذکور حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه مجرمین مذکور را به چهار- چهار ماه حبس تنفیذی و ۲۵- ۲۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این حکم بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای مجرمین تطبیق گردید.

## حکم جزا تعزیری بالای یک مجرم در ولایت بغلان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت بغلان به تاریخ ۱/ ۷/ ۱۴۴۶هـ ق بالای یک تن به اساس داشتن جرم فروش شراب، در مقر محکمهٔ مرافعه حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری مجرم مذکور را به یک سال و دوه ماه حبس تنفیذی و ۳۹دُره جزا تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای مجرم تطبیق شد.

این حکم جزای تعزیری درحضورداشت، محترم الحاج مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه، رؤسای دواوین، منسوبین قضائی، کارمندان ملکی و نظامی، رئیس و کارمندان ریاست عدلیه و شماری از باشندگان محل تطبیق گردید.

## په زابل ولایت کې یوه مجرم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د زابل ولایت د دایچوپان ولسوالی ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې په ۴/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه یو کس ته له کوره د نامحرمې ښځې د تېښتونې په جرم د محکمې په انګړ کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد مجرم په یو کال تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاده پرېکړه د ستړې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر مجرم تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې او ښاري ابتدائیه محکمې قضائي غړو، اداري کارکوونکو، مراجعینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

## حکم جزای تعزیری بالای سه متهم در ولایت خوست تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی اسمعیل خیل و مندوزی ولایت خوست به تاریخ ۴ /۷ /۱۴۴۶ هـ ق بالای سه تن که متهم بر لواطت بودند؛ در مقر ولسوالی اسمعیل خیل حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محاکم ابتدائیه متهمین مذکور را به ۳۹- ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این احکام بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهمین تطبیق شد.

در گردهمائی که به همین منظور راه اندازی شده بود؛ محترم الحاج مفتی امین الله (منیب) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه و هیئت همراهش، منسوبین قضائي، ملکی، نظامي و مردم عام حضور داشتند.

در این گردهمائی رئیس محکمهٔ مرافعه در ارتباط به قبیح بودن فعل لواطت و آگاه نمودن مردم از عواقب بد آن صحبت‌های همه جانبه نمود.

گردهمائی پس از تطبیق حکم جزای تعزیری به دعاء خیر خاتمه یافت.

## د کابل ښاري ابتدائیه محکمې لخوا دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت مرافعه محکمې اړوند کابل ښاري ابتدائیه محکمې، څلورم زون د جزا دېوان الف جزء د پرېکړې له مخې د یوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته چې پر زنا متهم وو؛ د سه شنبې په ورځ (۷/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټه د یادې محکمې په انګړ کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د جزا دېوان یو متهم پر یو کال تنفیذي بند او ۳۹ دُرو او دویمه متهمه پر شپږ میاشتې تنفیذي او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکومه کړې وه؛ چې یاده پرېکړه د ستړې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.

## په نورستان ولایت کې یوې متهمې ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د نورستان ولایت د وایګل ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې یوې ښځې ته چې پر زنا متهمه وه؛ په ۳/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاده متهمه پر ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکومه کړې وه؛ چې یاده پرېکړه د ستړې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمې تطبیق شوه.

## د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۸۵۱) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې له (۱۵/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۱۸۵۱) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثیقو د ثبت لومړی حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړی حوزې په دوو اونیو کې (۱۳) نکاح خطونه، (۱۲) قبالې، (۱۷) زوجیت خطونه او (۱۹) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۱۰) نکاح خطونه، (۸) قبالې، (۱۲) زوجیت خطونه او (۱۵۰) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت دریمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دریمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۸۹) نکاح خطونه، (۵) قبالې، (۱۵) زوجیت خطونه او (۱۱۰) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۴۴۲) نکاح خطونه، (۱۶) قبالې، (۱۷) زوجیت خطونه او (۷۱) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۳۰۰) نکاح خطونه، (۶) قبالې، (۲۱) زوجیت خطونه او (۸۳) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۵۰) نکاح خطونه، (۵) قبالې، (۲۱) زوجیت خطونه او (۳۹) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت بغلان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۸۰۳) دوسیه، به تعداد (۳۸۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۶۶۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۴۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۲) دوسیه فیصله شده، (۵۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۲۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۷) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۳۸۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست اړوند مجاهدینو لپاره د معسکر د څلورمې دورې افتتاحیه ناسته وشوه

د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست اړوند د حضرت خالد ابن ولید (رضی الله عنه) د تعلیمي مرکز قوماندانۍ د معسکراتو د څلورمې دورې افتتاحیه ناسته د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې په ۳ مه نېټه د یاد ریاست په انګړ کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي رئیس محترم الحاج مولوي محمد عوض (سعید)، د حضرت خالد ابن ولید (رضی الله عنه) د تعلیمي مرکز قوماندان مولوي نقیب الله (بلال) او نورو مسؤولینو او منسوبینو ګډون درلود.

ناسته د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د غونډې ګډونوالو ته د یاد ریاست رئیس محترم الحاج مولوي محمد عوض (سعید) د اعداد د ارزښت په اړه وینا وکړه ووېل، په دنیا او آخرت کې به هغه څوک بری مومي، چې د دنیوي ستونزو سره د سالمې مبارزې لپاره اعداد او تدریب وکړي، د اعداد په کولو سره به مجاهدین هم د فزیکي وړتیاوو څخه لا برخمن شي او هم به د مجاهدینو عقیدې لا راسخې او مستحکمې شي.

محترم سعید زیاته کړه، خپل ارزښتناکه وخت په بې هوده توګه مه مصرفوئ، د اسلامي نظام د بقاء لپاره دا ستړیاوې او مشقتونه وزغمئ، دغه اسلامي نظام لا مستحکم او پر خپلو پښو ودروئ، تر څو الهي مکلفیت اداء او دغه اسلامي نظام ته د خدمت جوګه شئ.

دغه راز د یادې قوماندانۍ قوماندان مولوي نقیب الله بلال ډاډ ورکړ، چې له مجاهدینو سره به هره ممکنه همکاري کوي تر څو له دغه دورې څخه پوره ګټه واخلي.

غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۸۴) دوسیه، به تعداد (۱۳۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ (۱۵/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۵۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۳) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۵) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۳۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۲۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۰۴) وثیقې هم اجرا کړې دي

د خوست ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، اختصاصي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۴۲۷) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۳۰۴) وثیقې یې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۱۱۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۲) دوسیې فیصله شوې، (۳۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۳۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۶۰) دوسیې فیصله شوې، (۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۰۴) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۴۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۵۳) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه تر ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۲۴۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۵۳) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۲۷) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۴۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۱) دوسیې فیصله شوې، (۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۴۳) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۶) دوسیې فیصله شوې، (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

(۲) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۵۳) بېلا، بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د زابل او سمنګان ولایتونو محاکمو په دوو اونیو کې (۲۶۶) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۵۵) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل او سمنګان ولایتونو مرافعه محاکمو، ښاري ابتدائیه محاکمو، نظامي محاکمو او ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۲۶۶) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۵۵) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د زابل او سمنګان ولایتونو محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۵۶) حقوقي دوسیې راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۹۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۲) دوسیې فیصله شوې، (۲۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د زابل او سمنګان ولایتونو محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۲۲) جزائي دوسیې راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۴) دوسیې فیصله شوې، (۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل او سمنګان ولایتونو محاکمو په دوو اونیو کې (۱۵۵) وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایات جوزجان و کندز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۶۲۹) دوسیه، به تعداد (۴۷۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان و کندز، دواوین محاکم مرافعه، وثایق، محاکم ابتدائیهٔ شهری، نظامی، محکمهٔ اختصاصی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۸۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم ولایات جوزجان و کندز گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۴) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۲۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم ولایات جوزجان و کندز گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۰۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۱) دوسیه فیصله شده، (۲۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایات جوزجان و کندز به تعداد (۴۷۲) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت تخار طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۵۰) دوسیه، به تعداد (۳۱۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۴۴) دوسیهٔ حقوقی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۲۳۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۴) دوسیه فیصله شده، (۲۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده است.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۶) دوسیهٔ جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۳۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۴) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده است.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۳۱۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم مربوطه نظامی زون ولایت بلخ طی سه ماه به تعداد (۲۵۱) دوسیه را رسیدگی نموده است

خلاصه اجراآت قضائی محکمه نظامی زون بلخ و محاکم مربوطه (محکمه نظامی ولایت فاریاب، محکمه نظامی جوزجان و سرپل) از تاریخ ۱۹/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق در بخش قضائی اجراآت ذیل را انجام داده است.

**در بخش حقوقی:**

در جریان سه ماه به تعداد (۱۹۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۸۰) دوسیه رسیدگی شده است و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان سه ماه به تعداد (۷۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله به تعداد (۷۱) دوسیه رسیدگی شده است و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

## د کابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې په دوو اونیو کې (۱۵۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه تر ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۱۵۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې ته په دوو اونیو کې (۱۵۶) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱) دوسیې په تړاو قضائي قرار صادر شوی، (۱۵۰) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

## د متحدالمآل ګڼه: ۱۲

**نېټه:۱۵ /۶/ ۱۴۴۶ هـ ق**

د سترې محكمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د ممنوع الخروجي په اړه د مشرتابه محترم عالي مقام حکم.

د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۲۸۸) مؤرخ ۱۴۴۶/۵/۲ هـ ق په توسط داسې هدایت کړی:"د ممنوع الخروجي او رفع ممنوع الخروجي اړوند زموږ د ۱۴۴۵/۱۱/۱۵ هـ ق نېټې (۶۱۵) ګڼه حکم صادر شوی و، د هغه حکم مطابق دې ټول اجراآت کیږي، هر ارګان که منع کوي او که رفع کوي، د امارت له مقام څخه به یې په اړه اجازه اخلي البته که د یو چا په خروج کې د یو چا حق ضائع کېدی، بیا د هرې اداري چې مربوط وي، تر هغه پورې دي ممنوع الخروجي ورکوي تر څو چې د امارت له مقام څخه اجازه اخلي."

د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مؤرخ ۸ ـ جمادی الآخرة ـ ۱۴۴۶ هـ ق په توسط داسې هدایت وکړ: "کله چې په یوه موضوع کې مدعي د مدعی علیه ممنوع الخروج کول غواړي په دغه صورت کې دې محکمه اولاً د مدعي دغه معلومه دعوی د مدعي په شاهدانو یا د مدعي په قسم اخستلو ثابته کړي طبق شرح المادة (۱۶۱۸) درر الحکام ج ۴ ص ۱۸۲ .

تر هغه وروسته به محکمه د مدعي جانب د حق د ضائع کېدلو څخه د مخنیوي په موخه د مطلوب شخص ممنوع الخروج کولو په اړه د جریان خلاصه په مکتوبي شکل د سترې محکمې محترم مقام ته را استوي، که د سترې محکمې مقام لازمه وبلله تر هغه وخته یې ممنوع الخروج ګرځوي تر څو د سترې محکمې مقام د مشرتابه محترم عالي مقام څخه د مطلوب شخص د ممنوع الخروجی اجازه اخلي."

بناءً یاد هدایت ددې متحدالمآل په توسط تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شول.

## د متحدالمآل ګڼه: ۱۳

**نېټه:۱۹ /۶/ ۱۴۴۶ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د محاکمو متعلق د موضوعاتو په اړه د سترې محکمې عالي مقام حکم.

د ۱۴۴۶ هـ ق کال د ربیع الاول میاشتې پر (۲۱) مه نېټه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري د سترې محکمې قضائي معاون او د جنوب لویدیځې حوزې د تمیز رئیس شیخ سردار محمد ابو الفیضان صاحب، د مرکزي تمیز رئیس شیخ محمد شریف حقاني صاحب، د سترې محکمې د قضائي تعلیماتو او تفتیش ریاستونو د رئیسانو او د دواړو تمیزونو د دیوانونو د مسؤلینو سره مجلس ترسره شو، د مجلس پر مهال د محکمو اړوند یو شمېر موضوعاتو په هکله پرېکړې وشوې:

د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مؤرخ ۱۷ ـ جمادی الاولی – ۱۴۴۶ هـ ق په توسط داسې هدایت وکړ: " د محاکمو متعلق د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۱۸۱۰/۱۸۴) مورخ ۱۴۴۶/۴/۱۳ هـ ق لومړی، دوهمه، څلورمه، شپږمه او اوومه پریکړه دې په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته واستول شي."

**لومړی پرېکړه:** د علماوو ولایتي شوری ګانو ته که د محکمو په اړه کوم شکایت ورسیږي، شوری ګانې دي یاد شکایت د ولایت په اداري مجلس کي د مرافعه محکمې د رئیس سره شریکوي، نوموړی دي په راتلونکي مجلس کي د یاد شکایت په هکله وضاحت وړاندې کړي، که بیا هم یاد شکایت رفع نه شو، نو د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په دفتر کي د علماوو د شوراګانو د انسجام ریاست سره دي په دې هکله رابطه وشي او موضوع دي ورسره شریکه شي.

**دوهمه پرېکړه:** کوم بندیان چې په امنیتي او نورو ادارو کې بې ګناه ثابت شي، د هغوی دوسیو ته دې په محکمه کې د اولیت حق ورکول کیږي، که دا ډول بندي محکمې ته هم بې ګناه ثابت شي نو محکمه دې هغوی ته دوسیه نه جوړوي بلکې یوازې دې برائت خط ورکوي.

**څلورمه پرېکړه:** د جزائي موضوعاتو فیصلې دې د ابتدائیه محکمې د قاضي له خوا د محکمو د لایحې د (۷) مې مادې مطابق اجراء کیږي او د حقوقي موضوعاتو فیصلې دې د حقوقو ریاست له خوا تطبیقیږي.

**شپږمه پرېکړه:** د دې لپاره چې د قصاص او د حدودو په فیصلو کې لا ښه غور او دقت وشي، ابتدائیه محکمو ته چې کوم اقرار شوی وي، یا یې کوم حکم صادر کړی وي، هغه ته دې التفات کیږي او په دې هکله دې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۱۴۴۶/۲/۲۲ هـ ق نېټې (۵) ګڼه فرمان مطابق عمل کیږي.

یادونه: یاد فرمان نمبر (۵) مؤرخ ۱۴۴۶/۲/۲۲ هـ ق د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۹) مورخ ۱۴۴۶/۳/۲۲ هـ ق په توسط ټولو محکمو ته استول شوی دی.

**اوومه پرېکړه:** د قتل اړوند فیصلو کې د اقرار په صورت کې د قاتل په اقرار کې د عمد قید ذکر کولو په اړه دې د حضرت امام ابو یوسف رحمه الله تعالی قول مدار د حکم وګرځول شي، لکه په لاندې فقهي عباراتو کې چې وایي:

(رجل قال قتلت فلانا ولم يسم عمدا ولا خطأ قال أستحسن أن أجعل ديته في ماله تتارخانية رجل قال أنا ضربت فلانا بالسيف فقتلته قال أبو يوسف هو خطأ حتى يقول عمدا فتاوى مؤيد زاده عن القنية في باب القتل بسبب. (أقول) ، وإنما اقتص منه، وإن سكت الشهود عن ذكر العمد لما في غاية البيان عن شرح الكافي في تعليل المسألة بقوله؛ لأن العمد هو القصد بالقلب وهو أمر باطن لا يوقف عليه. ولكن يعرف بدليله وهو الضرب بآلة قاتلة عادة قال ولو شهدوا أنه قتله عمدا وأنه مات به فهو أحوط. اهـ. لكن يحتاج إلى الفرق بين الشهادة والإقرار حيث حمل الإقرار بالقتل على الخطأ ما لم يذكر العمد ولعل وجهه أنه لما أقر بجنايته وظلمه ظهر لنا صدقه وحسن حاله فيحمل كلامه على الأدنى ولا يؤخذ بالقرينة وهي الضرب بالآلة القاتلة عادة إذ لو كان ذلك عمدا لذكره بخلاف ما إذا أنكر القتل أصلا وظهر كذبه بالبينة العادلة المنزلة منزلة المعاينة، فإنه يحمل على العمد لوجود دليله وهو الضرب بالآلة المذكورة ولهذا قال الخير الرملي في حاشية المنح بعدما قدمناه عن غاية البيان أن هذا صريح في أنه بعد ثبوت القتل بالآلة الجارحة بالبينة لا يقبل قول القاتل: لم أقصده، بخلاف ما لو أقر وقال أردت غيره؛ لأنه ثبت من جهته مطلقا عن قيد العمدية والخطئية فيقبل منه ما أقر به ويحمل على الأدنى. (العقود الدرية في تنقيح الفتاوى الحامدية: ۲۸۰/۲ ـ كتاب الجنايات، م / أمير حمزه كتب خانه).

(وإن شهد أنه ضربه بشيء جارح فلم يزل صاحب فراش حتى مات يقتص) لأن الثابت بالبينة كالثابت معاينة ولا يحتاج الشاهد أن يقول إنه مات من جراحته بزازية... (قوله يقتص) لا يقال الضرب بسلاح قد يكون خطأ فكيف يجب القود. لأنا نقول لما شهدوا بالضرب بالسلاح ثبت العمد لا محالة؛ لأنه لو كان خطأ لقالوا إنه قصد غيره فأصابه.وكذلك إذا شهدوا أنه ضرب بالسيف حتى مات وإن لم يذكروا العمد؛ لأن العمد هو القصد بالقلب، وهو أمر باطن لا يوقف عليه، ولكن يعرف بدليله وهو الضرب بآلة قاتلة عادة ولو شهدوا أنه قتله عمدا، وأنه مات فهو أحوط اهـ أتقاني. قال الرملي: أول الجنايات هذا صريح في أنه بعد ثبوت القتل بالآلة الجارحة بالبينة لا يقبل قول القاتل لم أقصده، بخلاف ما لو أقر وقال أردت غيره؛ لأنه ثبت من جهته مطلقا عن قيد العمدية والخطئية فيقبل منه ما أقر به، ويحمل على الأدنى. قال في التتارخانية: وفي المجرد روى الحسن بن زياد عن أبي حنيفة لو أقر أنه قتل فلانا بحديدة أو سيف، ثم قال أردت غيره فقتلته لم يقبل منه ذلك ويقتل، وعن أبي يوسف إذا قال ضربت فلانا بالسيف فقتلته، قال هذا خطأ حتى يقول عمدا اهـ ملخصا. أقول: التفرقة بين الشهادة والإقرار إنما تظهر على الرواية الثانية دون الأولى تأمل رد المحتار على الدر المختار: ۲۲۸/۱۰ كتاب الجنايات باب الشهادة في القتل واعتبار حالته ط/ دار المعرفة.)

بناءً یادې پرېکړې ددې متحدالمآل په توسط تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شوې.

## د متحدالمآل ګڼه: ۱۴

**نېټه:۲۹ /۶/ ۱۴۴۶ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د انسان د قاچاق په اړه د مشرتابه محترم عالي مقام فرمان.

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان نمبر (۱۳) مؤرخ ۱۴۴۶/۶/۹ هـ ق د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې شو، محترم مقام د حکم مؤرخ ۱۴۴۶/۶/۲۳ هـ ق په توسط داسې هدایت وکړ:

"د سترې محکمې دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر(٤٩) مؤرخ ۱۴۴۴/۹/۲۷ هـ ق مل جدولونو څخه د امنیت عامه دیوان مربوط جدول د (۳۹) نمبر موضوع: د انسان قاچاق( له خارج ملک څخه داخل ته او یا له داخل څخه خارج ملک ته د انسان انتقالول په غیر قانوني توګه) مطابق د انساني قاچاق موضوعات د امنیت عامه دیوان مربوط وو اوس د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فرمان نمبر (۱۳) مؤرخ ۱۴۴۶/۶/۹ هـ ق په اساس د انسان د قاچاق د موضوعاتو د بررسۍ صلاحیت نظامي محاکمو ته ورکړل شوی په دې اساس د مشرتابه محترم عالي مقام ذکر شوی فرمان دې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۴۹) مؤرخ ۱۴۴۴/۹/۲۷ هـ ق په تعقیب ټولو محکمو ته واستول شي او د هغه مطابق د انساني قاچاق موضوعات چې تر یاد فرمان وروسته نورو محکمو ته راغلي وي، و نظامي محکمو ته دې واستوي ترڅو په اړه یې اصولي اجراآت ترسره شي."

بناءً د مشرتابه محترم عالي مقام فرمان نمبر(۱۳) مؤرخ ۱۴۴۶/۶/۹ هـ ق ددې متحدالمآل مل په (۲) ورقو کې د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.



د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳